ليکوال: پوهنوال محمد رسول باوري ۲۵/۱۲/۲۰۰۷

# افغان ولس د ډيورنډ کرښه هيڅکله نه ده منلې




د افغانستان سرحدونه او په ځانګړي توګه ختيزي او سهيلي کرښي د يوې ستري ستونزي په توګه د افغان اولس او ټولو افغاني دولتونو او حکومتونو په وړاندي وې او لا پاته دي . افغانستان په خپل معاصر تاريخ کي چي د ستري احمد شاهي امپراتورۍ سره يوځای راپيليږي ، د زياتو لوړو ژورو او بيلا بيلو پيښو سر ليکونه لري . خو هغه څه چي اغيزي يې تر اوسه شته هغه د دې هيواد د سياسي پلو او سرحدي کرښوټاکنه ده ، که د هيواد تاريخ ته ځير شو نو د لوی احمد شاهي امپراتورۍ د پيل څخه بيا تر اوسه چي د ښاغلي حامدکرزي د واکمنی مهال دی ، زموږ د هيواد سرحدي کرښي دوه ځله ټاکل شويدي ، لومړی ځل هغه وخت چي افغانانو لويه امپراتوري درلوده او د واک چاري د اعليحضرت احمد شا بابا سره وې ( ۱۷۴۷ __ ۱۷۷۳ ميلادي ) او دويم ځل هم هغه وخت چي امير عبدالرحمن خان واک ته ورسيد ( ۱۸۸۰ __ ۱۹۰۱ ) . خو د دې دواړو تر منځ بيلوال دا و چي ، په لومړی دوره کي افغاني واکمنو پرګاونډيانود خپلو ارادو دمنلو توان درلود او په دويمه دوره کي ګاونډيو واکمنو پر افغانستان د خپلو ارادو د تحميل ځواک درلود .

د اعليحضرت شاه زمان تر واکمنی وروسته بيا د امير عبدالرحمن خان تر واکمنی پوري د افغاني لويي امپراتورۍ ټولي برخي په يوه او يا بل ډول د سيمه ايزو او خپل سرو واکمنوتر منځ ووېشلي شوي او کله نا کله يې ځني برخي لامالکه يا بې خاونده پاته شويدي . د سدوزو کورنی په منځ کي شخړي او بيا د محمد زو د کورنی تر منځ جګړي او د دې تر څنګ پر افغاني سيمو د بهرنيانو له لوري يرغلونه او تحديدونه د دې سبب شول چي د افغانانو پخوانی لويه امپراتوري د روسانو او انګريزانو تر منځ و ويشل شي او د هغې امپراتورۍ د نيوکليوس ( Nucleus ) هستي څخه داوسني افغانستان سياسي او جغرافيايي جوړښت منځ ته راشي . هغه وخت چي د اوسني افغانستان سرحدي کرښي ټاکل کيدلي ، دا هيواد نه يوازې دا چي متمرکز دولت او ځواک يې نه درلود بلکي د دوولويو اروپايي زبر ځواکونو تر منځ داسي را ګير او محاط شوی وو چي متعرضو ګاونډيو هر ګړی او هر لحظه پر افغانستان د بريد توان درلود او يا يې په افغانستان کي دننه د تجزيي او ملک الطوافي ادارو د ټيلو وسايل او ګوډاګيان په واک کي وه .

په ۱۸۸۰ ميلادي کال اعليحضرت عبدالرحمن خان په کابل کي د واک چاري تر لاسه کړي . دا په داسي حال کي وه چي ، د دولت او حکومت په نوم هيڅ نه وه پاتي يا له سره نه وه او يا هم د انګريزانو سره د جګړې پر مهال له منځه تللي وه ؛ د هيواد په هر سيمه کي سيمه ايزو واکمنو ځان ته د خپلسري دولت په څير چاري پر مخ بيولي ؛ او شمالي او سهيلي ګاونډ يان هم د نرۍ دويش په لټه او ليوالتيا په خورا بيړه د افغانستان پر لور را روان وه ، انګريزانو خو دوه ځله خپل بخت وازمويه او د دريم ځل لپاره يې د تياری چاري پر مخ بيولي او تزاري روسيي خو د منځنی اسيا زيات هيوادونه يويه بل پسي ونيول چي د عبدالرحمن خان د واکمنی پر مهال يې د افغانستان شمالي څنده ( پنجده ) تر خپلي قبضې لاندي راوستل . په داسي حالاتو کي د يوه جګړه ځپلي هيواد په توان کي هيڅ هم نه وه چي د دې زبر ځواکونو سره د خپلو سرحدي کرښو رښتنی سپيناوي وکړای شي .

پنجده د افغانستان خاوره وه او لا هم په ناقانونه توګه د افغانستان څخه بيله ساتل شويده ، خو تر پنجدي زياته افغاني


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

خاوره د ډیورنډ کرښې تر نوم لاندې زموږ د هیواده غوڅه شویده ، چې زموږ د هیواد لپاره تر ټولو ستره ستونزه بلل کیږي . د دې ستونزې حل اوسپیناوی د افغانانو ستره هیله ده . دا پوښتنې چې دا کرښه څنګه او کله وتپل شوه ؟ د یوی تاریخي پیښې په توګه زیات بحث ته اړتیا لري خو په دې برخه کې د درنو لوستونکو لپاره لنډ او اړین مالومات وړاندې کیږي .

د ډورنډ کرښې په اړه تر هر څه لومړئ دا اړینه بریښي چې د هغه مهال پیښو ته پام وکړو چې د اوسني افغانستان په جغرافیایي جوړښت کې ځانګړي کالونه بلل کیږي ، د دې کلونو پیښې داسې یو په بل پسې وشوې چې : د ۱۸۷۸ میلادي کال د نوامبر پر ۲۰ مه نېټه انګلیسي ځواکونو د خیبر ، کورم او بولان له لارو په برید پیل وکړ ، امیر شیرعلي خان د روسانود مرستې په هیله مزار ته ولاړ او په ناکامۍ کې هلته مړ شو ، انګریزانو د خیبر او بولان سیمې لاندې کړې او د جلا اباد تر نیولو وروسته پر کابل د برید لپاره راوخوځیدل ، او په کابل کې له زندانه راوتی محمدیعقوب خان یې د ګندمک سیمې ته وغوښت او دهغه سره یې په ۱۸۷۹ میلادي کال د مې په ۲۶ مه نېټه داسې تړون وکړ چې پر بنسټ یې انګریزانو ته د خیبر ، کورم او پښین سیمو ور کول ومنل شوه ، اوپه ۱۸۷۹ کال د جولای په میاشت کې کیو ناري د انګریزاونو د استازي په توګه د کابل په بالا حصار کې ځای ونیوی ، خو د همدې کال د دسامبر په میاشت کې د انګریزانو په وړاندې د پاڅون اواز اوچت شو او د هیواد هر سیمه د مبارزې سپیڅلی سنګر وګرځیدی .

په کابل کې د کیوناري تر ځای پر ځای کیدو وروروسته پوره یوکال جګړه په ډیره تندئ روانه وه چې انګریزانو د خپلو ځواکونو د پیاوړتیا لپاره په برتانوي هند کې نوي هوسا او تازه نفسه قوتونه افغانستان ته د لیږلو لپاره تیا رکړل ، خو د افغانستان په قبایلي سیمو کې داسې میړنی مقاومت وشو چې هیڅ انګریز ، و افغانستان ته په ننوتلو ونه توانیدی . او په کابل او د هیواد په نورو سیمو کې هم افغاني اتلانو د دښمن پر ځواکونو ناتار جوړ کړ . د میوند فاتح غازي ایوب خان ، غازي محمد جان خان ، میر مسجدي خان ، ملا مشک عالم او یوزیات شمیر نور اتلان د اولسي ځواکونو په لیکه کې ودریدل او د دښمن ځواکونه یې ورځ په ورځ تر محاصرې او تنګۍ لاندې راوستل ، تر څو انګریزان وتلو ته اړ ویستل شوه ، د دې لپاره چې په هند کې د انګریزانو په وړاندې د افغانانو څخه په الهام پاڅونونه تر سره نه شي ، نو یې د امیر عبدالرحمن خان سره د دوستۍ په نوم د هغه واکمنې په دې شرط ومنل چې د هیواده بهر به د چارو په سمبالښت کې د انګریزانو سره مشوره کیږي . دهمدې شرط په منلو سره د افغانستان بهرنی خپلواکي له منځه ولاړه .

امیر عبدالرحمن خان په هیواد کې هر څه له سره پیل کړه ، دولتي اداره او د هیواد پر بیلا بیلو برخو د واکمنۍ تامین ، په هیواد کې د سولې او امن داډمنه فضا ، د دولتي بودجې پیاوړتیا ، او نورې هغه اړینې دندې چې د یوه واکمن دولت په توګه ورته اړتیا وه ، لاد هیواد پر زیاتو برخو یې د واکمنۍ لاس نه وو برشوئ چې د ګاونډیو زبرځواکونو تر فشار لاندې د هیواد شمالي ، سهیلي ، ختیزو او لوديزو سرحدونو د تثبیت او ځرګندولو اړتیا مخ ته شوه . د امیر عبدالرحمن خان په وینا : د سرحدي کرښو د تثبیت په لړ کې تر ټولو زیاتې ستونزمنې کرښې د هیواد سهیلي او شمالي کرښې وې ، دا ځکه چې دواړو ګاونډیانو د افغانستان خاوره او سیمې د ځان کړیدې ؛ امیر عبدالرحمن خان انګریزانو ته د غوښتنې او مشورې په توګه لیکلي چې : دا به دافغانستان او دوست هیواد بریتانیا په ګټه وي چې سرحدي سیمې د افغان دولت په واک کې پریږدي ، د یوې خوا به زموږ خاوره نه وي ویشل شوې او له بله پلوه به د بریتا نیا دوست هیواد په همیشنی جګړو کې راښکیل نه وي ؛ ( تاج التواریخ : ۱۱٤ ) خو د امیر دا خبره او غوښتنه وانه وریدل شوه ، په مقابل کې یې د افغان امیر د تحدید لپاره سیاسي ډیپلماتیکي لارې وترلې او د نظامي افسرانو په وسیله په ځانګړي توګه د ( لارډ رابرټس ) په وسیله یې ګواښونه پیل کړه ، امیر عبدالرحمن خان د دا ډول حالت څخه په وار وار سرټکولي او هغه یې د دو هیوادونو د دوستۍ خلاف کړه وړه شمیرلې دي .

په داسې حال کې چې امیر عبدالرحمن خان لا په بشپړه توګه د هیواد ټولې برخې تر خپل واک لاندې نه وې راوستې او امیر د هیواد په منځنیو سیمو کې د یاغیانو په ځپلو بوخت وو چې د انګلیسانو له خوا د سرحدي کرښو د تثبیت لپاره د هانري تیمور دیورند ، چې په هند کې د انګلیسي واکمنۍ د بهرنیو چارو وزیر وو ، په ۱۸۹۳ میلادي کال د سپتامبر په نولسمه نیټه د یوه هئیت په مشرۍ کابل ته ورسیدی .

امیر عبدالرحمن خان یوځل بیا انګریزي هئیت ته د سرحدي سیمود ټاکلو په اړه خپل پخوانی دریځ وښود ، چې داسیمې باید له افغانستان څخه بیلې نه شي ، خو انګریزانو د امیر دې دریځ ته په یوه بیړني نظامي اکټ جواب ورکړ ، او د هئیت د مرکو او مذاکرو په جریان کې یې پر ژوب ، بلند خیل ، وانه او یوشمیر نورو سیمو یرغل وکړ او هغه یې د


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

افغاني ځواکونو ښخه ونيولې ، امير ته په دريو محاذونو ( د هيواد په دننه کې دواکمنی ټینګښت ،د شمالي يرغلګر ګاونډي مخنيوئ او په سهيل کې د انګريزانو مقابله ) کې جګړه تر توانه وتلې بريښيدل نو يې د راغلي هئيت سره د تړون پر منلو موافقه وکړه . او په دې ترتيب د افغانستان سهيلي سرحدي کرښي وټاکل شوې ، چې د انګريزي هئيت د مشر هانري تيمور ډيورنډ په نوم يادېږي . د يادوني وړ ده چې نړيوالو ارونو ته په پام سره دا ډول سرحدي کرښه د ډيفکتو سرحد په نوم يادېږي ؛ چې قانوني او حقوقي ارزښت يې په بشپړه توګه نه دي منل شوئ . د ډيورنډ کرښه په رښتيني ډول د يوه زبر ځواک تر نظامي او سياسي دباو لاندي د يوه امير ځانګړې پريکړه ده ، هغه پريکړه نه د اولس استازي پارلمان او نه په افغاني دود لويې جرګي ته وړاندي شوې ، او د تيرو ( ۱۰۲ ) يو سل او دوو کالو په ترڅ کې د هيڅ افغان واکمن له خوا نه ده منل شوې ، ځکه لا تر اوسه هم ټول افغان اولس دا پوله د يوه غير قانوني او تپل شوي سرحد په توګه پيژني .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de